لیکوال: هانس کریستیان اندرسن
ژباړن: آصف بهاند

۲۰۱۵/۱۰/۱۴

# د سمندر وړه ښاپیرۍ

## (Den lille havfrue)

## پنځمه برخه

سحر ګرې و ویل:«ښکلې وجود دې، ښایسته تګ دې او غړیدونکې سترګې دې. په دې شیانو سره کولای شې انساني زړونه تر لاسه کړې. آیا تا خپله ژره ورتیا له لاسه ورکړې؟ وړه ژبه دې را وباسه! زه به هغه د شربت د بیې په توګه در نه غوڅه کړم، تر څو ته دا قوي معجزه ګر شربت تر لاسه کړې!»

وړې ښاپیرۍ ورو و ویل:«سمه ده، ودې شي.»

زړې سحر ګرې یو دیګی راوړ چې معجزه ګر شربت په کې وخوټوي او وې ویل:«پاکوالی ښه شی دی!» او دیګی یې په سره تاو او غوټه شویو مار ماهیانو باندې پاک کړ. بیا یې په سینه کې ځان زخمي کړ تر څو یې تور بخونه وینه په دیګي کې تویې شي. کوم تپ چې له دیګي نه جګ شو، داسې عجیب شکلونه یې را منځ ته کړل چې په لیدلو یې انسان ډاریده. زړې سحر ګرې هره شیبه کوم شی دیګي ته ور اچول. په دیګي کې له خوټیدونکو شیانو نه داسې غږ تر غوږه کیده، لکه د تمساح چغې. په پای کې چې شربت چمتو شو، داسې و لګه رڼې اوبه!

زړې سحر ګرې و ویل:«واخله!»

او په بدل کې یې د وړې ښاپیرۍ ژبه غوڅه کړه. هغه نوره ګونګۍ وه، داسې چې نه یې خبرې کولای شوې او نه یې سندرې ویلی شوې.

سحر ګرې و ویل:«زما د ځنګله په منځ کې د بیرته تګ په وخت کې که کومې بلا یا کوم څه هڅه وکړي چې تا ونیسي، تا ته در کړي شربت څخه چې بوازې یو ځاڅکی پرې وڅخوې، د هغوی متې او ګوتې به ټوټه ټوټه شي!»

خو وړه ښاپیرۍ هیڅ کار ته اړ نه شوه، بلا ته ورته ټولو موجوداتو، د هغې په لاس کې ستورو ته ورته ځلیدونکی شربت په لیدلو به، په ډار سره لرې کیدل او وړه ښاپیرۍ له ځنګله، ختو، چیکړو او مرګونو ځپو یا ګرداو څخه را تیریدله.

نور نو وړې ښاپیرۍ کولای شول چې د پلار مانۍ و ویني. د ګڼا د ستر تالار مشعلونه مړه او ټول ویده شوي وو. وړې ښاپیرۍ غوښتل چې د ټل له پاره کورنۍ پریږدي، هغه اوس ګونګۍ شوې وه، د دې توان یې په ځان کې نه لیده چې په هغوی پسې ورشي، زړه یې له ډیر ویر نه په ماتیدو و. نو په غلا او په لمبلو د بڼ لوري ته ورغله او د ټولو خویندو له بڼونو نه یې یو یو ګل را ټول کړ، بیا یې په خپلو ګوتو سره په زرګونو مچکې د پلار د مانۍ په لوري ولیږلې او د شنو اوبو له منځ نه په لمبا د اوبو مخې ته جګه شوه.

لمر لا نه و را ختلی چې د شهزاده مانۍ ته ورسیده. په مرمرینو زینو پاس وختله. سپوږمۍ په ځانګړې ښکلا سره ځلیده. وړې ښاپیرۍ تیز او تند شربت نه غوړپ وکړ او داسې چې یوه تیره توره یې د وړوکې وجود له منځ نه تیریږي. وړه ښاپیرۍ له ډیر درد نه، د مړي په څیر پر مځکه اوږده وغځیده.

کله چې د لمر وړانګې پر سمندر وغوړیدې، وړه ښاپیرۍ په سد شوه او په ټول وجود کې یې د سوځونکي درد احساس یې وکړ. خو ځوان شهزاده یې په مخ کې ولاړ و او د سکرو په شان خپلې توري سترګې یې ورباندې ګنډلې وې. ښاپیرۍ د خپل بدن لاندنۍ برخې ته وکتل او وې لیدل چې لکۍ نه لرې او د لکۍ په ځای دوې ښکلې سپینې پونډۍ دي چې هره جلې یې لري، خو هغه لوڅه وه او خپل لوڅ بدن یې په خپلو اوږدو ویښتانو سره پټ کړ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

شهزاده و پوښتله چې دا څوک ده او څنګه دلته راغلې ده. خو هغې په خواشینۍ او مینې سره خپلې شنې(آبي) سترګې ور واړولې او نه يې شوای کولای وغږيږي. شهزاده له لاسه ونیوله او مانۍ ته يې بوتله او هماغسې چې د سمندر سحر ګرځ ویلې و، هر پل به يې چې جګاوه، داسې و لکه پر ستنو یا تیرو چړو چې روانه وي، خو وړې ښاپیرۍ په خوښۍ سره دا رنځ او درد ګاله او شاهزاده سره لاس په لاس روانه وه. شهزاده او نورو ټولو چې هغه ولیده، حیران پاتې شول چې څنګه هغه داسې چټکه تللای شي.

په مانۍ کې يې له چیت(ګلداره ټوټه) او وریښمو نه جوړې شوې جامې ور واغوستې. هغه په مانۍ کې تر ټولو ښکلې، خو کونګې وه. نه يې خبرې کولای شوې او نه غږیدای شوه. په وریښمینو جامو او ګاڼو باندې سمبال، ښکلې مینځې را وړاندې شوې، د شهزاده او د هغه د مور پلار له پاره يې سندرې و ویلې او يو له بل نه يې ښې و ویلې، شهزاده لاسونه ور ته وپړکول او هغوی ته موسکی شو. د شهزاده دې کار وړوکې ښاپیرۍ خواشینې کړه ځکه هغه په دې پوهیده چې يو وخت دې په خپله له هغوی نه ښې سندرې ویلې. ښاپیرۍ له ځان سره سوچ وکړ:«آه، که شهزاده پوهیدی چې ما خپل غږ له ده سره د يو ځای پاتې کیدو په خاطر له لاسه ورکړی دی!»

بیا مینځوو نجونو له شانداره موزیک سره په ځانګړي ښایست نڅا وکړه. د دوی په لیدلو سره وړې ښاپیرۍ خپل وړوکې سپین مړوندونه و غوړول او د پښو د ګوتو پر څوکو ودریده او ورو يې پر غولي باندې حرکت وکړ، وګډیده، داسې ګډا يې وکړه چې تر دې وخته هیڅ څوک هغسې نه و ګډیدلې. د ګډا له هر يو حرکت سره يې ښکلا نوره هم ځلیدله او سترګو يې د مینځو له غږ نه هم له زړونو سره ښې او کارې خبرې وکړې.

ټولو خوند واخست، په تیره بیا شهزاده چې هغه يې لاره کې موندلې ماشوم ګاڼه. د ګډا په شیبه کې، کله چې د وړې ښاپیرۍ پښې له غولي سره نښتې، داسې يې انګیرله چې په تیرو چړو باندې ګرځي، خو دا بیا وګډیده او نوره هم پسې وګډیده. شهزاده و ویل چې وړه ښاپیرۍ تل له ده سره پاتې شي او هغې ته اجازه ورکړل شوه چې د شهزاده کوټې ته مخامخ پر وریښمین بالښت باندې ویده شي.

شهزاده سپارښت وکړ چې هغې ته د نارینوو په شان کالي وګنډل شي، څو وړه ښاپیرۍ وکړای شي د آس سورلۍ په وخت کې له هغه سره و اوسي. هغوی د معطرو ځنګلونو په منځ کې د آس په سورلۍ وګرځیدل، چیرې چې شنو ځانګو به د دوی اوږې نازولې او وړوکو مرغانو به د تازه پاڼو په منځ کې سندرې ویلې. وړوکې ښاپیرۍ له شهزاده سره په لوړو غرونو باندې وختله، سره له دې چې د وړوکې ښاپیرۍ له پښو نه وینې څڅیدې او نورو هم ولیدې، خو هغه له خندا ډکه خوله په شهزاده پسې روانه وه. هغوی دومره لوړ وختل چې اوره يې تر خپلو پښو لاندې داسې خوځنده ولیدل، لکه د مرغانو مهاجرې ډلې چې نورو وطنو ته د الوت په حال کې وي.

د شپې مهال د شهزاده په مانۍ کې کله چې ټول ویده وو، وړه ښاپیرۍ له سورورو مرمرینو زینو نه د سمندر پر لورې په دې نیت ولاړه چې خپلې خوارکوټې درد لرونکې پښې په اوبو کې لږ څه سړې کړي. بیا يې تر اوبو لاندې خپلو خویندو په باب فکر وکړ.

یوه شپه د ښاپیرۍ خویندو غمجنې سندرې ویلې مړوندونه يې يو بل ته ورکړي وو او د اوبو مخې ته را وختلې. وړه ښاپیرۍ د هغو خوا ته ورغله، هغوی خپل خور وپیژاندله او ور ته يې و ویل چې د دې تګ ټولې خویندې څومره غمجنې کړې دي. وروسته له هغه به ټولې خویندې هره شپه د ښاپیرۍ لیدلو ته راتلې او یوه شپه وړې ښاپیرۍ هلته لرې خپله نیا هم ولیدله چې کلونه کلونه يې سر له اوبو نه و را ایستلی، او هلته يې پلار د سمندرونو بادشاه تاج پر سر لیدل کیده، هغوی خپلې غیرې ښاپیرۍ ته پرانستې، خو لکه د هغې د خویندو په شان يې د سمندر څنډې ته، د را تګ زړه نه ښه کاوه.

شهزاده ورځ تر بلې ښاپرۍ ته ګرانیده، خو هغه ته وړه ښاپیرۍ داسې ایسیده لکه خپل اولاد سره چې څوک مینه کوي او هیڅ کله يې دا زړه کې نه و تیر کړي چې هغه به خپله ملکه کړي. وړه ښابیري باید د هغې ښځه شوې وای، پرته له هغه وړې ښاپیرۍ نه شوای کولای تل پاتې روح پیدا کړي او د شهزاده واده په سبا به د اوبو د مخ په ځګ باندې بدله شوې وای.

کله به چې شهزاده وړوکې ښاپیرۍ په خپلو متو کې ونیوله او تندی به يې ور ته ښکلاوه، د ښاپیرۍ په سترګو کې دا خبره ځلیدله:«آیا له نورو نه زه ډیره درته ګرانه نه یم؟»

«ولې نه! ته ما ته ډیره ګرانه يې، ستا زړه تر ټولو مهربانه دی. تا ځان ما ته ځانګړی کړی دی او ته هغې جلۍ ته ورته يې چې ما يو وار لیدلې او بیا به يې کله ونه وینم. زه په هغې ماتې شوې بیړۍ کې سپور وم چې څپو څنډې ته را وایستله، چیرې چې یوازینۍ مقدس معبد و. هلته ډیرو نجونو خدمت کاوه، له هغو نه یوې تر ټولو ځوانې زه د سمنر په څنډه کې پیدا کړم او زه يې وژغورلم او هغه ما یوازې دوه ځلې ولیدله، هغه په دې نړۍ کې یوازینۍ جلۍ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ده چي پر ما به ګرانه وي او ته هغي ته ورته يي، ته زما په ذهن کي د هغي د تصوير ځايناستي يي، هغه د مقدس معبد وه، او له نيکه مرغه ته د هغي پر ځای ما ته را ليږل شوې يې او موږ به هيڅ کله يو له بل نه جدا نه شو.»
ورې ښاپيرۍ له ځان سره و ويل:«افسوس چې دی نه پوهيږي، دا زه وم چې دی مې ژغورلی دی، هغه مې له سمندر نه ځنګله بوته، چيرې چې عبادت ځای و، دی مې هلته پريښود او خپله د سمندر د څګونو شا ته پټه شوم، تر څو خلک راغلل او دی يې وموند. زه هغه جلی پيژنم چې له ما نه هم ورته ګرانه ده!»
د سمندر ښاپيرۍ د زړه له تل نه يو آه ويست، هغې نه شوای کولای وژاړي او له ځان سره يې فکر وکړ:«هغه و ويل چې هغه نجلی د مقدس عبادتځي ده او هيڅکله به دنيا ته بيرته را نه شي او هغوی به بيا هيڅکله سره و نه ګوري؛ خو زه هره ورځ ور سره يم، هغه هره ورځ ګورم، د هغه ښارنه او ساتنه کوم، هغه را ته ګران دی او خپل ټول ژوند مې هغه ته وقف کړی دی!»
خلکو ويل:«ځوان شهزاده بايد اوس واده وکړي، هغه هم د ګاونډي هيواد د بادشاه له ښکلې لور سره او د همدې له پاره هغه د يوې شاندارې مجهزې کشتۍ په برابرولو لګيا دی. خلک وايي چې شهزاده غواړي د ګاونډي هيواد نه ليدنه وکړي او د ليدني اصلي موخه د ګاونډي هيواد د بادشاه د لور ليدل دي، هغه به دې سفر کې ډير خلک له ځان سره بيايي.»

د پنځمې برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ